مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۲/۱۲/۱۵

# څوارلس سوه کاله مخکې جګړه

## او زموږ اوسنۍ ستونزې

سپورت مې خوښېږي، خو چې افغان ټیمونه په کې ونه لوبېږي، د نړیوالو لوبو د لیدلو وخت نه لرم، فوټبال لوبې مې کتلې نه دي، د (میسي) نوم مې اورېدلی، زلمیانو راته وویل: د نړۍ یو مشهور فوټبال لوبغاړی دی. ښه خبره ده .باور لرم، چې احساساتي افغانان به یې په مینه او دوښمنۍ کې خامخا زیاتی (افراط) کوي، خو یوه ورځ ناڅاپه په یوه وینا ورپېښ شوم. کوم واعظ پر منبر لګیا دی او (میسي) ښکنځي، کافر و یهود یې بولي او خلک ورته په احساساتو کې ناست دي... دی وایي: چې کافر میسي یادوئ ولې ابوبکر و عمر و عثمان نه یادوئ؟
کیسه همدلته پای ته نه رسېږي. په کومېنټونو کې یوه مخاطب واعظ ته ښې ډېرې ښکنځلې کړې، چې ابوبکر و عمر و عثمان یادوې ولې علي و حسین نه یادوې، ته خو ډېر لوی متعصب یې. بیا نو سلګونه کسان په دې کې سره نښتي، چې علي و حسین مهم ول، که دا نور بزرګواران؟
استدلال و منطق خو هسې هم نه شته، بس د ښکنځلو، سپکاوي او پوچو پرکندو باران دی .
تاسو به وایاست، زه نو ولې دومره بې ارزښته ښکنځلې و سپکاوي لولم؟
زما لپاره دا هرڅه مهم دي. د لاندې لاملونه له کبله:
۱ـ زه د ټولنې په مانیز او فکري سقوط فکر کوم .
۲ـ ماته د ځوانانو روزنیز، پیداګوژیک، اخلاقي، چلندپوهنیز او فکري - شعوري حالت خورا مهم دی .
۳ـ زموږ د فزیولوژیک او فکري تمرکز واټن زموږ د ملي بدمرغۍ بنسټي لامل دی .

**لومړی ـ**

موږ، چې همدا اوس وږي، وزګار، بې ښوونځي، روسته پاتې او احتیاج یو، په ۱۴۰۰ کاله پخوانیو شخړو کې سره جنګیږو، چې که حق وې یا ناحقه، خو پېښې شوې دي، تېرې شوې دي او موږ په کې بدلون راوستلای نه شو. که خلافت د ابوبکر یا عمر و عثمان حق و که د علي یا حسین یا د بل، اوس ټول وفات شوي دي (رضوان الله تعالی علیهم). نه یو لرې کولای شو او نه بل واکمن کولای شو .
په ۱۴۰۰ کاله مخکې جګړه کې زموږ ورګډېدل زموږ اوسمهالو ستونزو ته څه په درد خوري؟
د وینیتیا، روښانتیا او بدلون یوه کیلي د دغې پوښتنې په ځواب کې ده .

**دویم ـ**

دین او دیني چارې سپېڅلې ګڼل کیږي. موږ ولې په دیني مسایلو کې ښکنځلې، سپکاوي او پوچ وایو؟
چا دغه اخلاقي سقوط ته راوستي یو؟ او ولې؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

آیا دا پوښتي مو کله له ځانه پوښتلي دي؟

**درېیم –**

که مو له دې ټولو حضرتانو څخه یو د اسمان لمر کړ او نور مو ناحق ثابت کړل او د ښکنځلو او سپکاوي په زور مو خپل (ایمان) ښه ځواکمن وښوده، نو همدا اوس مهال ۴۲ میلیونه وږیو، ناروغو، بربنډو، وزګارو، نالوستو، جګړه ځپلیو او محتاجو افغانانو ته به یې ګټه څه وي؟
تاسو د دې ټولو لویو لویو نومونو څخه په راپاتې مرغلرو کې ولټوئ، چې د چرګانو د روزنې، د سبو د کرلو، د کار روزګار او خوړو موندلو، پر شاړو دښتو د اوبو راسمولو، فابریکو او خدماتي موسسو په اړه یې څه فرمایلي که نه؟
خپل فکرونه، خپل بحثونه او خپل باورونه رانوي کړئ!
له خپلو ننیو، نو مهالیو ستونزو سره یې وتړئ !
او دا ومنئ، چې خپلې ننۍ ستونزې په ۱۴۰۰ کلنو شخړو کې په وربښکېلېدو حل کولای نه شئ .
نویو ربړو ته نوي حللارې ولټوئ!
راوبین شئ!!!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ